DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT

Students Rise. We All Rise.

# د سواد زده کړې پلان

د تعلیمي حوزې د سواد زده کړې د پلان موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه شي ترڅو هر زده کوونکی د لوستونکي، لیکونکي، وینا کونکي او اوریدونکي په توګه خپل بشپړ ظرفیت ته ورسیږي. د هغه فعالیتونو څخه په استفاده چې د صنعت اړوند کارپوهان یې د "زده کړې د علم" په توګه په پام کې نیسي، یاده تعلیمي حوزه د سواد زدکړې د لا اغېزمنتیا لپاره له لاندې مواردو څخه استفاده کوي:

| جزيات | اجزاء |
|---|---|
| زده کوونکي ځینو لاربښوونو او تمرین ته اړتیا لري چې غبځ او واړه توري وپیژني، د اساسي او لومړنیو غږونو له مخې توري یو له بله ونښلوي او د ژبې او لیکنې تر منځ اړیکه ټینګه کړي | د تورو پیژندنه، د الفباء زده کړه او لیکنیز مفاهیم |
| زده کوونکي هغه لاربښوونې ته اړتیا لري چې څنګه هغه غږونه معلوم او تنظیم کړي چې لغاتونه ترې جوړیږي | غږ پوهنه |
| زده کوونکي دا زده کوي چې د غږ املایي اړیکې او نمونې وپیژني | غږ پوهنه او لغت پیژندنه |
| زده کوونکي د تمرکز او دقت د پراختیا لپاره، د متونو د بیا بیا لوستلو منظم تمرین ته اړتیا لري | فصاحت |
| زده کوونکي لاربښوونو او د هغو متونو په اړه توضیحاتو ته اړتیا لري چې له مخې یې ددوی د لغاتونو ذخیرې ته وده او پراختیا ورکوي او د خپلې نړۍ د هغه پوهې کچه پراخه کړي چې په مرسته یې دوی کولای شي | د لغاتونو ذخیره او پوهاوی |
| کله چې زده کونکي ددې وړتیا ولري چې د متن پیچلتیاوې پرانیزي او په پانه کې موجوده توري معلوم کړي، دلته نو زده کوونکي په هغه څه پوهیږي چې دوی یې لولوي؛ کله چې دا ذواړه فعالیتونه پر خپل اصلي ځای وي، زده کوونکي هغه کلیدي لاربښوونو او توضیحاتو ته اړتیا لري چې په مرسته یې د متونو تحلیل، تفسیر او ارزونې ترلاسه کولای شي | په متن باندې پوهاوی ترلاسه کړی |
| زده کوونکي ځینو فرصتونو ته اړتیا لري ترڅو په لاندې هر یو مورد باندې تمرین وکړي | د لیکلو، خبري کولو، اوریدلو، او د ژبنیزو لاربښوونو کې بښکیلیدل |
| زده کوونکي باید په بشپړ ډول د ښکیلتیا لپاره د لوستلو په موخه اړوند محتویات او موضوعات پیداکړي | د نژاد پرستی ضد، کلتوري زده کړو اړوند محتویات |

**د لوستلو په جوړ شوي بلاک کې د ټولګي په کچه اساسي لارښوونې، کوچنۍ ګروپي لارښوونې او د کوښښ کونکو زده کوونکو د ملاتړ لپاره مداخلې شاملې دي.  یاد موارد به له وړکتون څخه تر لېسې دورې پورې د هر زده کوونکي د سواد زده کړې برخه وي:**

| د ټولګي کچه | لنډيز |
| --- | --- |
| له وړکتون څخه تر 2م ټولګي پورې | بلاک په موخه ټاکل کیږي، چې پکې لوستل، لیکل، اوریدل او خبرې کول شامل دي. اړوند بلاک ELA زده کوونکي به د 150 دقیقو لپاره د بلاک (SGI) درې درسي پړاوونه لري: بنسټیز مهارتونه، د محتوا پر اساس د سواد زده کړې نمونه درسونه، او د لارښوونو کوچنی ګروپي |
| له 3 څخه تر 8 ټولګي | بلاک په موخه ټاکل کیږي، چې پکې لوستل، لیکل، اوریدل او خبرې کول شامل دي. زده کوونکي د ELA زده کوونکي به د 100 دقیقو لپاره د د دورې د نیمايي محتویاتو پراساس د سواد زده کړې په نمونه درسونو کې تیروي او پاتې نیمايي برخه د کوچنیو ګروپي لارښوونو ELA دوی د باندې تېروي، چې هلته دوی کولای شي د اساسي مهارتونو اړوند د لارښوونو ترلاسه کولو ته دوام ورکړي، دا په هغه صورت کې که (SGI) چېرې د دوی زده کړې پر وړاندې خنډ وي. |
| عالي لېسه | د وړکتون څخه تر 8م ټولګیو برخلاف، چې په ښوونیزو ورځو کې د ځانګړو لارښوونو له دقیقو کار اخلي، د لیسې په دوره کې د سواد زدکړې برخې د زده کوونکو اساسي ELA د اړتیاوو د پوره کولو لپاره عملي کار ته لاسرسی لري. په دې توګه زده کوونکي مکلف دي چې په لیسه کې په خپله څلور کلنۍ دوره کې لږترلږه یو د Orton-Gillingham مضمون ولري. برسېره پردې، ښوونځي د سیمینار د مضامینو له لارې د سواد زدکړې په برنامه کې اضافي زده کړې وړاندې کوي چې د میتود په کارولو سره د سواد اړوند د اساسي مهارتونو زدکړي وړاندې کوي، په تېره بیا د هغو زدکوونکو د زدکړې فعالیتونو په ګړندۍ کولو او د کالج برخي او مسلک ته د چمتو کېدو لپاره د وياړونو، پراختیاوو، دوه ګوني نوملیکنې او انتخابي مضامینو یوه ټولګه تشکیلوي. |

**د سواد زده کړې د داسې کلتور رامنځته کول چې زده کړو ته لیوال لوستونکي وړاندي کوي دا به د زده کوونکو د علمي لاسته راوړنو په برخه کې د پام وړ پرمختګ رامینځ ته کړي او دوی د بریالي او هوسا ژوند د تعقیب لپاره په اړینو وسایلو سره سمبال کړي.**

### د ځايي ليکوالانو ډله

*ځايي ليکوالانو ډله د سيمه ييزو ليکوالانو لپاره يو د ټولګي په DPSCD فرصت دی چې خپل هنر د کتابتونونو کې له نورو سره شريک کړي ترڅو په خپلواکه توګه د مطالعې څخه ملاتړ وکړي.*

### لاس پورته کړئ/ نور ولولئ

نور ولولئ د تعليمي ،(Rise Up) د لاس پورته کړئ حوزې په کچه د لوستلو سيالي ده چې له وړکتون څخه تر12 ټولګيو زده کونکو هره ورځ په کور کې مطالعې ته هڅوي.

### د املا اړوند سيالي

اړونده تعليمي حوزهوياړي چې د 5 څخه تر 8 ټولګيو زدکوونکو لپاره د املا اړوند سيالي هم (Spelling Bee) په کلني ډول وړاندې کوي.  د املا دغه سيالي نه يواځې د زده کونکو د ژبې مهم معيارونه تقويه کوي، بلکه په دوی کې په هر ګډون کونکي ټولګي کې د وياړونو او لاسته راوړنو احساس هم رامنځته کوي.

DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT
Students Rise. We All Rise.

DPSCD does not discriminate on the basis of race, color, national origin, sex, sexual orientation, gender identity, disability, age, religion, height, weight, citizenship, marital or family status, military status, ancestry, genetic information, or any other legally protected category, in its educational programs and activities, including employment and admissions.  Questions? Concerns? Contact the Civil Rights Coordinator at (313) 240-4377 or dpscd.compliance@detroitk12.org or 3011 West Grand Boulevard, 14th Floor, Detroit MI 48202.